دستگیر روښنیالی

۲۰۱۷/۱۰/۱۹

# جنګونه ختم کېدونکي دي, که سیاست انساني شي

## دلته هر څه باید له سره تعریف شي.

هره ورځ د وژلو او ترور کولو خبرونه دي. یو د دین په نوم د دین دوښمنان وژني. بل د قوم په نوم د قوم دوښمنان وژني، بل د نژاد په نوم د نژاد دوښمنان وژني... نه یوازي نن، پرون هم په میلیونونو انسانان د دین، نژاد، ایدیولوژي، قوم، ملت... په نومونو نفي شوي او حذف شوي دي. په همدي ورځو کي د دین په نوم په میانمار کي یوه لویه انساني فاجعه روانه ده. دلته په لسګونو زره انسانان په دي ګناه چي مسلمانان دي له تعقیب، شکنجي، فرار او مرګ سره مخامخ دي او دلته هره ورځ د بشریت په ضد جنایت کیږي.

همدي ویشونکو عنصرونو سیاست او سیاسي فرهنګ د خشونت، وژلو، نفي کولو... په میدان بدل کړي دي. په پیړیو پیړیو د افغانستان سیاست او سیاسي فرهنګ د "هرڅه یا هیڅ" د مخالیفنو حذف او نفي کول او خپله اراده او خپل نظر د ټولني اراده او د ټولني نظر تعریف کول...متأثیر دی. دلته هغه چا هم واک لاسه کړي چي نه د ټولني ضرورت، نه د زماني ضرورت وو او نه یي د ټولني له پاره برنامه او تګلاره درلوده او دا په ټولنه د یوه ګروپ، یوه تفکر، یوې ایدیولوژي او د یوه سیاست تحمیل کول دي. دلته د ځان د تباه کولو او له پوهي او پرمختګ د راتلونکو نسلونو د بي برخي کولو لښکري جوړي شوي دي. دا هغه څه دي چي یوازي په یوه کمزوري، په یوه بي تفاوته او په یوه نابالغه ټولنه کي په واقعیت بدلیږي. دا هغه څه دي چي په یوه تر اسارت لاندي ټولنه کي پلي کیږي. جنګونه، بلواګاني، انقلابونه، ټولنیزه بي ثباتي، ټولنیزه بي باوري... هم د یوې نابالغي او کمزوري ټولني ځانګړتیاوي دي. افغانستان...

دلته د اوږدي مودي له پاره له یوې میلیوني ټولني سره له یوي خوا د مطلقیت او له بلي د واقعیتونو د ساده کولو په بنیاد چلند شوی او هڅه شوي همدا میلیوني ټولنه د فرمان او قوماندي په دود بدله کړي. په داسي حال کي چي ټولنه نه په فرمان او نه هم په قومانده بدلیږي. د لته په سیاست او سیاسي فرهنګ کي د دوست، د مخالف او د دوښمن مشخص تعریفونه نشته دي او دا د سیاسي پوهي بي وزلي او د سیاسي فرهنګ خواري دی.

زه تر اوسه هغه سیاسي ګوند نه پیږنم چي انساني ارزښتونه یي د خپل سیاسي تفکر په بنیادونو بدل کړي وي او یا د سیاسي تفکر په مرکز کي یي انسان وي. دلته ګوندونه پیاوړي مذهبي، قومي، ګروپي او ایدیولوژیکي ځانګړتیاوي لري او دا د سیاسي شعور وروسته پاتي والی او د ټولني او زماني له غوښتنو د درک کمزوري دی.

د برابرو مکلفیتونو او نابرابرو حقونو ټولنه.

قومي او مذهبي واکمني په ټولنه کي دواړو تبعیض او نابرابري ته قانونیت ورکوي.

د قوم سیاسي کول په ټولنه کي قومي تبعیض، د نژاد سیاسي کول په ټولنه کي نژادي تبعیض، د دین سیاسي کول په ټولنه کي دیني تبعیض... ته قانونیت ورکوي. د بیلګو په توګه په ایران کي له سونیانو او په عربستان کي له شعیه ګانو سره ښکاره تبعیضي او نابرابر چلند کیږي او په دي دو هیوادونو کي سونیان او شعیه ګان برابر مکلفیتونه او نابرابر حقونه لري او نه یوازي له ښځو، بلکي له اقلیتونو سره هم د دوهمي درجي انسانانو په شان چلند کیږي. په ایران کي سونیان او په عربستان کي شعیه ګان عملاً دوهمه درجه انسانان دي. په اول کي شعیه ګان او په دوهم کي سونیان د واکمني کولو حقونه لري. په دي دوه هیوادونو کي د انسان په ځای مذهب د سیاست او سیاست کولو معیار دی.

قومي او مذهبي واکمني هڅه کوي بشري حقونه نسبي کاندي او یا هم د بشري حقونه د فرهنګي نسبیت cultural relativism تابع و ګرزوي. بي له شکه فرهنګونه نسبي او یوله بل سره توپیرلري. خو پوښتنه داده، چي انسان او د انسان مفهوم به څه ډول او په کوم منطق نسبي کیږي.؟ انسان او د انسان مفهوم نه نسبي دی او نه نسبي کیداي شي. انسان د دنیا په هر هیواد، د دنیا په هره برخه، د دنیا په هرفرهنګ کي، د دنیا په هر نژاد کي، د د نیا په هر قوم کي او د دنیا په هر دین کي انسان دی. کله چي د انسان مفهوم نسبي نه دی په طبعي توګه د انسان حقونو او آزادیګاني هم نسبي کیداي نشي او نه د دي او هغه فرهنګ، نه د دي او هغه قوم، نه د دي او هغه نژاد او نه د دي او هغه دین تابع ګرزول کیداي شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پوښتنه دادی، که د انسان سرشت يو وي، ولې له انسان سره د همدي اصل په بنياد چلند نه کيږي او ولې د انسانانو ترمنځ اړيکي د همدي اصل په بنياد نه جوړيږي؟ هر سياست د ارزښتونو په زور حرکت کوي.

## انساني غوښتنو ته په انساني ارزښتونو ولاړ سياست ځواب دی.

افغانستان يو سالم سياست او يوه په تفاهم ولاړ سياسي فرهنگ ته ضرورت لري. دواړه سياست او سياسي فرهنگ په ارزښتونو ولاړ دي. که دا ارزښتونه نژادي، قومي، ايديولوژيکي، مذهبي... وي سياست هم له يوي خوا ويشونکی او له بلي خوا نفي کونکي او د نور په وړاندي د زور او خشونت ځانگړتياوي غوره کوي. ويشونکي عنصرونه سياست محدود کوي، د سياست خپلواکي له منځه وړي، سياست له يو بله د نفرت کولو په ډگر بدلوي او ټولنه له سياست بيگانه کوي.
سياست هغه وخت سالم او سياسي فرهنگ هغه وحت په تفاهم مشخص کيږي چي دا دوه په يو ځای کونکو ارزښتونو تکيه وکړي. نه يوازي د افغانستان تجربه، بلکي دنيا تجربه هم دا ثابتوي چي يو ځای کونکي ارزښتونه نه يوازي د تفاهم، نه يوازي يو بل ته د نږدي کيدو، نه يوازي يو بل ته تيريدو، نه يوازي د مصالحي او سولي، بلکي له سره د سياست، د سياسي فرهنگ، د ټولني، دانسان... د تعريف کولو زمينه هم برابروي. دلته هر څه بايد له سره تعريف شي او د دي تعريف کولو تر ټولو سخته برخي د ځان او د خپل پرون تعريف کول دي، کوم چي دواړه فهم او شهامت غواړي. افغانستان د سياست د قومي کولو، د سياست د ايديولوژي کولو، د سياست د مذهبي کولو، د سياست د فاميلي کولو... نه يوازي پراخي تجربي لري، بلکي پايلي بي هم لمس او ليدلي دي چي هر يو يي په خپل وار يوه فاجعه او يوه تراژيدي وه او دی. اوس بايد د سياست انساني کولو ته چانس ورکړل شي او امکانات ورته برابر شي.
يو ځاي کونکي انساني ارزښتونه په بشپړ ډاډ او تضمين کولاي شي سياست له ويشونکو عنصرونو: قوم، نژاد، مذهب، ايديولوژي، فاميل... وژغوري، خپلواکي يي تأمين او انساني شي. که دا کار وشي نه يوازي به په ټولنه کي سياسي بيگانگي ختم شي، نه يوازي به ټولنه سياسي شي، بلکي بيا به څوک دي جنايت ته زړه نه ښه کوي چي گويا د قوم په نوم د قوم، د دين په نوم د دين، د نژاد په نوم د نژاد... دوښمنان وژني.
يو ځای کونکي ارزښتونه نه د چا کشف دی او نه موږ له دي ارزښتونو بيگانه يو. دا انساني ارزښتونه دي او دا د هيچ چا له خوا انسان ته په سوغات نه ورکول کيږي. انسان د خپل انسان والي په بنياد دا ارزښتونه لري. دا د ما او تا ارزښتونه دي او دا د هر چا ارزښتونه دي. نژاد، قوم، دين، ملت... دا ارزښتونه نشي متأثير کولاي او نه د دي ارزښتونو ځانگړتياوي بدلولاي شي. هر مسلمان انسان دی، هر عيسوي انسان دي، هر هندو انسان دی... هر هزاره، هر تاجيک، هر ازبيک، هر پشتون... انسان دی او انسانان هغه وخت يو بل ته نږدي کيږي چي يو بل د انسان په توگه درک کړي.
قومي سياست د قومي غوښتنو، مذهبي سياست د مذهي غوښتنو، نژادي سياست د نژادي غوښتنو او انساني سياست د انساني غوښتنو ځواب دی. دا د فهم وړ خبره ده چي سياست سبا نه انساني کيږي. لاره سخته او اوږده ده خو د سياست انساني کيدل د ارمان په ځای يو عملي او ممکين هدف دی.
نن په نړی کي د ټولو ستونزو، جگړي، ترور، ناسيوناليزم، پاپوليزم، د قوم په بنياد د هيواد او ملت جوړولو د تفکر پراختيا، د ملي پولو د بيا جوړولو... سره سره دا انساني ارزښتونه دي چي د بل هر تفکر او د بلي هري ايديولوژي په پرتله وده کوي، پراخيږي او جهاني کيږي. نن دا ناسيوناليزم او د دنيا په دي او هغه کنج کي د ناسيوناليزم او پاپوليزم غورځنگونه او ځپي نه دی چي د راتلونکي لوری ټاکي دا انسان او انساني ارزښتونو دي چي نړی او راتلونکي ته لوری ورکوي.
نړی هيڅ کله د نن په شان هوسا او پر مخ تللي نه وه. په نړی کي هيڅکله د نن په شان انساني بيداري پراخه او انساني غوښتني پياوړي نه وي. انسان هيڅکله د نن په شان د خپلواکی، د انديښني د خپلواکی د درلودلو او د خپلواک شخصيت د جوړولو هڅي نه درلودي.

## د خلاصون لاره د سياست انساني کول دي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ